په اروپا کی دميشته افغانانو د ټولنو فدراسيون

فدراسيون سازمانهای پناهندگان افغان در اروپا

**Federation of Afghan Refugee Organizations in Europe**

# پريکړه ليك

د بُن څخه تر بُن پورې نړۍ وال کنفرانس
لس کاله د افغان ولس په غوښتنو سترګي پټول
۱۴/ د ډسمبر، ۲۰۱۱م

د ډسمبر په ۴مه، ۲۰۱۱ د يوسلو او پنځوسو څخه ډېرو کلتوري، ټولنيزو او سياسي بنسټونو استازي د المان، هالند، سويدن، انګلستان، فرانسه، اطريش، ناروې، دنمارک، اسپانيا، امريکا او افغانستان څخه د بُن په ښار کې د اې زېډ کې د هوټل په تالار کې ( AZK Hotel ) د بَن څخه تر بُن پورې په نړۍ وال کنفرانس کې ګډون کړی ؤ ۰

کنفرانس د اغلي نجلا واسعي د فارو ريسي په پرانيستني وينا سره پيل شو۰ د فدراسيون رييسې وروسته له دې چې د هيواد وضع يې وڅيړله او د بن د دوو کنفرانسونوپه واټن کې او په دې دوره کې د فارو فعاليتونه او موضع ګانې، د بُن د کنفرانس سره موازي د دې کنفرانس د جوړولو په اړه داسې ووېيل: " په دې تيرو لسو کلونو کې د افغان ولس غوښتنو او اړتياوو ته هيڅ پام و نه شو۰ د افغانستان دولت او د هغه ملاتړو خپلې ګټې په لومړيتوب کې راوستلې۰ ددې لپاره چې د افعان ولس غوښتنې په بن کې خپرې شي، فارو د دې موازي کنفرانس په جوړولو لاس پورې کړ۰ "۰ وروسته بيا د کنفرانس ګډون کوونکو د ښاغلي عزيزالرحمن رفيعی دافغانستان د مدني ټولنو مشر، آغلې داکټر ثريا صبحرنګ د افغانستان د بشرحقوقو خپلواك کميسيون کمشنرې، ښاغلي فاروق فارانی په المان کې د سياسي چارو څېړونکي، ښاغلي ډاکټر عزيزالرحمن حکمی د مادريد په پوهنتون کې استاد، ښاغلی پيټربروان د افغانستان لپاره د سوېډن کميټې سکرټر جنرل، ميرمن مارتا ديله سيرادافغانستان دپاره داروپا داتحاديی دغيردولتی ټولنو مشره، ښاغلې ډاکټر قيام جلال زاده د افغان جرمن ټولنې مشر په افغانستان کې، ښاغلي ډاکټر حنان روستايی د المان د هانوور په پوهنتون کې علمي محقق، ښاغلی ډاکټر کريم غروال په اطريش کې د سياسي چارو څېړونکی، او ځينو نورو وينا والو ويناوو ته غوږ شول۰ وروسته د خبرو اترو (بحث) برخه پيل شوه۰ ګډون کوونکو په خپلو پوښتنو او تبصرو سره د لومړي بُن پر تيارو ټکو او د اوسني کړکيچ په ادامه تر دوهمه بُنه پورې رڼا واچوله۰

د لومړي بُن کنفرانس د ګډون کوونکو بنسټيزجوړښت د افغان ولس په غياب کې د ټوپکمارو ډلو څخه په ګوټو راټول او د لويو ځواکوونو او د مغرضو ګاونډيانو تر مينځ د جوړجاړي په بنسټ رابلل شوي وو، چې د هماغه پيل څخه د افغان ولس تر اعتراض لاندې راغلل۰ غربي هيوادونو د دې لپاره چې په دې ترکيب باندې د افغان ولس اعتراض کمزوری کړي په بيلابيلو لارو يې داسې څرګند کړل چې د ټوپکيانو ګډون په دې ترکيب کې يو لنډمهالی او موقتي خبره ده او د افغانستان لپاره د يوه مارشال پلان او په دغه هېواد کې د انتقالي عدالت په پلي کولو سره به افغانستان په يوه خوندي، پر مختللي او د ټوپکيانو څخه پاك هېواد بدل شي۰ د بُن د دوهم کنفرانس په درشل کې زموږ د هېواد سرسخت واقعيتونه دا په ډاګه کوي چې د مارشال پلان پر ځای، ډېرې پيسې د بې‌لابېلو هېوادونو د خزانو څخه د افغانستان د بيا رغونې تر نامه لاندې را واپسټل شوې خو د هغې ډېری برخه يې د کورنيو او بهرنيو لوټمارو لخوا تالا شوې۰ جنايت کوونکې ټوپکيان په همدې لوټ شويو پيسو په ځواکمنو مافياوو واوښتې او تر اوسه کليدي مقامونه او څوکۍ يې په اختيار کې دي۰


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د پاسنیویاد شویو کړکیچونو او نارساییو سره سره، افغان ولس د کومې تنفسي فضا چې په لاس یې راوړې وه په ګټې اخیستلو سره د خپلو وران شویو ښارونو او کلیو په ودانولو پیل وکړ او د خپل فرهنګ په بیا رغونه یې لار پورې کړ۰
دیادونې وړده چې د نړۍ په مرستې سره د افغانستان د خلکو په ژوندانه کې ځینې مثبت بدلونونه د سړك جوړونې، ښوونې او روزنې او روغتیا په برخه کې راڅرګند شول، خو په ډېریو برخو کې د افغان ولس بنسټیزې اړتیاوې او غوښتنې د افغان دولت او د هغه ملاتړو هېوادونو لخوا له پامه غورځول شوي دي۰ د بېلګې په توګه د انتقالي عدالت د پلان پلي کول، د افغانستان څخه بهر په پاکستان او اېران کې د ترهګرو روزنیز او پټنځایونو له مینځه وړل، د یوه ریښتنې اقتصادچې د هوسانیې او کار ځیږوونکی وي پر بنسټونو باندې پانګونه، د ملي پانګوالو څخه ملاتړ، د قانونیت ټینګول او د مجازاتو څخه د معافیت فرهنګ له مینځه وړل، د هغو ښځو وضعې ته چې د کورنیو تاوتریخوالي او جنسي تېریو قرباني دي په جدي توګه رسېدل، د هغو ټوپکیانو چې د بشري حقوقو په تېري او جګړه ایزو جنایتونو باندې مظنون دي د دولتي څوکیو څخه او د ولسمشرۍ او ولسي جرګې له نوماند کېدو د لېست څخه لرې کېدل ، د ټولو مافیاوو د مخدره موادو مافیاوو څخه نیولې ، د ځمکو مافیا چې نیژدې څلور میلیونه جریبه ځمکه یې په زور نیولې ده د نفتي موادو مافیا، د وسلو او مالي مافیا پورې، جرړې اېستل او په چاپورې ترلو نشراتي رسنیو د مالي سرچینو کنټرول او دافغان ولس ډېرې په حق غوښتنو ته نه هم غوږ نیول شوي او نه هم په کې اغیزه شوې ده۰
کنفرانس د پرېکړه لیك پر موادو وروسته له غور او خبرو اترو دا لاندې مواد تصویب کړل؛

۱- امنیت د خلکو بنسټیزه اړتیا ده۰ د معافیت فرهنګ، د واکه وتلی اداري فساد، د نړۍ والې ټولنې په ځانګړې توګه د ناټو او امریکې ملاتړ د جنایت کوونکو څخه او په پاکستان او اېران کې د ترهګرو ځالو له پامه غورځول د امنیت د ټینګولو اصلي خنډونه دي۰ تر څو دا خنډونه لرې نه نشي، نورې هلې ځلې به بې اغېزې وي۰ د پاکستان پوځیان او د اېران آخوندان په دې اخرو لسو کلونو کې د افغانستان په ناکراره ساتلو کې خپل بریالیتوب دافغان دولت د درې ګونو ځواکونو په انارشۍ او بې بندو بارۍ پورې تړي۰ له بلې خوا د افغانستان د امنیتي ځواکونو روزنه د ناټو هېوادونو لخوا د یوه سم او ټولنې پر واقعیتونو او دافغانستان د اوسنیو او د کړکیچنو سیمو پر اړتیاوو ولاړ پلان څخه د بې برخې توب له امله تاوان لیدلی چې هغه ټاکل شوې بودېجه خپل پای ته نیژدې شوې ده خو افغان پوځ او پولیس یواځې سپکې وسلې په خپل واك کې لري۰ مخکې له دې چې د امنیت د لېږد مسولیت افغان اردو او پولیسو ته تر سره شي په درنو وسلو د دوی سمبالول یو اړین امر دی۰ که چېرې افغانان یو زړه سوانده ملي دولت، او یو داسې ملي پوځ ولري چې توپچي ځواکونه ، هوایي او هوایي مدافع په واك کې ولري، پاکستان او اېران به هېڅ کله هم د افغانستان پر پولو د یرغل جرت ونه کړي۰
۲- د افغانستان اقتصادي بنسټ جوړول بایده چې د یوه اوږدمهاله پانګه اچونې پلان په اساس تر سره شي۰ د بازار د اقتصاد پالیسي بایده چې د مافیا خوښې او کاریکاتوري ډول څخه بهر کړل شي د ځیر او دقیقې قانون اېښودنې سره، اود تجارت او تولید په برخه کې د قانوني معیارونو د پلي کولو د ځیر څارېر تر سره کولو سره بایده چې خپل عادي حالت تر لاسه کړي۰ افغانستان د طبیعي سرچینو او د ځوان نسل د ځواك څخه برخمن هېواد دا ظرفیت لري چې په یوه ځان باندې بسیا ملت باندې واوړي۰ کوم څه ته چې موږ اړتیا لروو یو داسې حکومت دی چې مشران یې سیاسي اراده او د حکومت چلولو روښ سیسټم او خپلواکۍ څخه برخمن وي او ملي لومړیتوبونه د خپلو ملي ګټو پر بنسټ وټاکي۰ بهر میشته افغانان کولای شي چې د سیاسي فشار په راوړلو سره، لابي کولواو په بهرنیو رسنیو کې په لیکلو سره وکولای شي چې میشت هېوادونو حکومتونه دې ته اړ کړي چې د دې غوښتنو ملاتړ وکړي۰
۳- افغانان په دې اوسني حساس پړاو کې ملي وحدت ته اړتیا لري۰ ملي وحدت او پیوستون ته د رسیدلو مهم شرط د انتقالي عدالت په پلي کولو سره د دریو لسیزو په وینو لړې تاریخ پاڼو ترل دی۰ " د مصالحې او بخښنې قانون" چې د جنګي جنایت کوونکو او د دوی د ملګر لخوا ومنل او توشیح شو، د ټولنیزې سولې داعیه یې د نامالومو مودو لپاره شاته واچوله۰ له بلې خوا څخه پاکستان د طالبانو دسولې د بهر سره د یوځای کیدو مخه نسي او غواړي چې د طالبانو له لارې افغانستان په راتلونکي کې د خپلې ستراتیژیکې ژورتیا لپاره په واك کې ولري۰ "د افغانستان د علماوو د اتحاد" تر نامه لاندې د ای اېس ای د ګوډاګیانو او جاسوسانو څخه جوړ یوې نوې ډالې جوړولو اعلان په کوېټه کې د بن د کنفرانس په درشل کې ، یوه بله زنګ وهلې توره ده چې پاکستان د افغان ولس د وژلو لپاره یې د تیکې څخه را اېستلې ده۰ " د علماوو اتحاد" یوه نوې کړۍ ده چې پاکستان د هغو ځان او هیواد خرڅیو افغانانو په مرسته د افغان ولس د مریي کولو لپاره جوړه کړې ده۰ د پاکستان دا زور وېیل په شنډو موضع نیولو سره نه اېل کېږي۰
۴- د هغو ډلو په کوربه توب، تمویل، سمبالول او روزنې سره چې افغانستان او افغانان په اور کې لولپه کوي او په افغانستان کې بهرنیو ځواکونو د پاتې کېدو لامل ګرځېدلي دي، پاکستان د ملګرو ملتونو د منشور څخه په ډاګه سر غړونه کوي۰ امریکه او ناټو د خپلو ستراتیژیکو اوټاکنیزو سیالیو ګټو لپاره د پاکستان د دې نړۍ وال قانون ماتونې او ترهګرۍ پر وړاندې په نړۍ والو مجامعو کې چوپتیا اختیار کړې ده۰ سږ کال د پاکستان غړیتوب د امنیت په شورا کې په داسې حال کې نوی شو چې په ملګرو ملتونو کې د افغانستان منفعل هیات او د دوی نړۍ وال انډیوالانو د افغان ولس پر وینو پښو اېښودلو سره د دې یرغلګر هېواد د نوماندۍ پر وړاندې په ډېره بې شرمۍ سره پټه خوله ونیوله۰ لا


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ناوخته نده چي دې وضعې ته د پای ټکی کیښودل شي٠ که چیرې نړی واله ټولنه اوپه ځانګړې توګه امریکا او ناټو په پاکستان او ایران کي د ترهګرو ځالي، پټنځایونه او روزنیز مرکزونه له مینځه نه وړي نو بیا د ترهګرۍ پر وړاندې تر جګړې نامه لاندې په افغانستان کې څه کوي؟
او که چیرې دوی افغانانو ته غوږ نه نیسي، بیا نو د دوی کړه وړه د یوه یرغلګر نه دي؟
۵- عادلانه او ابرومنده سوله د هر افغان د زړه هیله ده٠ د سولې د خبرو اترو اړخونه نه بایده چي پاکستان او او نور بهرني وي٠ د سولي ارزښت نه بایده چي د مدني او سیاسي حقوقو او خپلواکیو څخه تیریدل او د ښځو د برابرو حقوقو تر پښو لاندې کولو سره وپیرودل شي٠ وروسته له شخړې د سولې د ټینګښت لپاره د انتقالي عدالت تر سره کول یو نه پرېښودونکی امر دی٠
او امریکا او ناټو په وجداني کچه په افغانستان کې د جنایت کوونکو، د بشري حقوقو څخه د تیري کوونکو او ډله ایزو وژونکو سره خپله ملګرتیا څنګه توجي کوي؟ چي افغانان ځانونه دې جنایت او جنایت کوونکو ته یرغمل ګڼي!
٦- د افغانستان دولت او بهرني ځواکونه بایده چي په خپلو زندانونو کي ( د دولت او ناټو په زندانو کي) خپلو سیستماټیکو ځورونو او شکنجو ته د پای ټکی کیږدي٠ د زندانونو او د دولتي امنیت د عمومي ریاست د پوښتنو ګوښګنو (تحقیق) د ځانګو څخه د ځورونې او شکنجې د وسایلو او دود راټولو سره افغان دولت کولای شي چي په افغانستان کي د بهرنیو دټولو زندانونو د تړلو غوښتنه په جدي توګه وړاندې کړي٠ په دې نیژدې وختونو کي د دولتي امنیت عمومي ریاست د یوې ځانګړې محکمې د جوړولو د پلان په اړه خبرې کوي٠ کنفرانس دا پلان په ډېرو سختو ټکو غندي٠ که چیرې ځورونې او اختناق د امنیت د ټینګیدو او د دولت د پاتې کېدل لامل ګرځیدلای شول نو د دې تیرو دریو لسیزو مشران به په واك كي خامخا پاتي ول٠
٧- د هېواد معادن او زیرمې زموږ ملي میراث جوړوي٠ په وارخطایي سره د دې پانګې په بولی ایښودلو د داسې چاراواکو لخوا چي فساد او بډې یې د نړۍ والو په خولو کي دي، د جدي اندیښني وړ کار دی٠ د لوګر د عینکو د مس معدن د ورکولو شرایط د اوسنیو چاراواکو د معامله ګریو یوه ښکاره بېلګه ده چي د هیواد په معادنو او دې ته پام نه کول چي د معادنو څخه داسي ګټه پورته شي چي د کارموندنې اوچتول او په هیواد کي د تخصصي کدرونو د روزنې لپاره یې تر سره کړه٠
د کنفرانس ګډون کوونکو پاسني اوه ګوني مواد د ډېریو په خوښه ومنل (تصویب کړل)٠

یادونه؛
د کنفرانس ګډون کوونکو فارو ته وړاندیز وکړ چي د تر ٢٠١٢ پورې په اروپا کي یو د ځوانانو کنفرانس او د افغان روڼ اندو افغان سیاسي او ټولنیزو بنسټونو سره یوه ګډه غونډه د هیواد په دننه کي (کابل) کي جوړه کړي٠ د فارو اجراییه هیات هم ژمنه وکړه تر د د ې وړاندېزونو د پلي کولو لارې چارې ولټوي٠

۰۴/ د ډسمبر ۲۰۱۱م

بُن/آلمان


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ